**د اعضاو او انساجو وقف کول**

*د اعضاو او انسجاو وقف کول یو شخصي انتخاب دی. خپله پرېکړه له خپلې کورنۍ سره شریکه کړئ.*

**د MUHC کلینیکي متخصص نرس له لوري چمتو شوی: وېنډي شیري او برنارډ ټرېمبلې د کاناډا د وینې خدمتونو په همکارۍ**

**د اعضاو او انساجو وقف څه دی؟**

د اعضاو او انساجو وقف کول هغه انتخاب دی چې نورو سره خپلې روغتیا بېرته ترلاسه کولو کې مرسته کولی شي. د اعضاو وقف کول ناسالم اعضاوې له روغو اعضاو سره بدلولو سره ژوند ژغوري. د انساجو وقف کول خلکو سره د هغوی لید غوره کولو او له جدي سوځېدنې څخه وروسته د عفونیت په مخنیوي سره غوره ژوند لرلو کې مرسته کوي.

وقف شوي اعضا او انساج هغو خلکو ته ورکول کېږي چې تر ټولو ډېره اړتیا ورته لري. توکم، جنسیت، عاید یا شهرت دا چې څوک وقف شوي اعضاوې او انساج ترلاسه کوي نشي اغېزمنولی.

خپل د بدن پاملرنه او درناوی د وقف د پروسې تر ټولو مهمه برخه ده. اعضاوې د روغتون عملیات خونه کې د عملیاتو پر مهال وېستل کېږي او اړتیا لرونکی کس ته لېږدول کېږي. بیا انساج او سترګې لرې کېږي. د پرانیستی تابوت ترتیبات یو انتخاب په توګه پاتې کېږي.

**کومې اعضاوې او انساج وقف کېدلی شي؟**

هغه اعضا او انساج چې وقف کېدلی شي په لاندې ډول دي:

*اعضاوې*
زړه، سږي، تریخی، د تریخی د ټاپو حجرې، ځیګر، پښتورګي، خېټه، او کوچنۍ کولمې

*انساج*
قرنیې، د سترګې صلبیه، پوټکي، د زړه والونه، هډونکي، او ټېنډونونه

**څوک وقف کولی شي؟**

هر څوک، له زېږون څخه لوړ عمر پورې وړ دی. د اعضاو یا انساجو د وقف کولو اداره په دې اړه پرېکړې لپاره چې کوم اعضاوې او انساج وقف کول ممکن دی هره قضیه په جلا ډول ارزوي.

*خپلې مړینې په اړه خبرې کول ستونزمن دی، نه یوازې ستاسې لپاره بلکې ستاسې کورنۍ لپاره هم.*

**که ناروغ واوسم بیا هم وقف کولی شم؟**

روغتیایي حالت یا جدي ناروغي تاسې د اعضاو ممکنه وقف کوونکي څخه نشي بهر کولی. د وخت رسېدو سره ټول ممکنه وقف کوونکي په انفرادي، طبي، قضیه پر قضیه بنسټ باندې ارزول کیږي.

## کله باید په دې اړه فکر کول پیل کړم؟

په داسې حال کې چې ژوندي یاست، د مړینې په اړه خبرې کول ستونزمن دی. خو د اعضاو او انسجاو وقف کوونکي کېدو لپاره د نوملیکنې لپاره خپلې پرېکړې په اړه خبرې کول ډېر اړین دي. ستاسې د ژوند پای کې ستاسې عزیزان باید ستاسې هیلې بشپړولو ته غاړه کېږدي؛ که له وړاندې څخه مو په دې اړه فکر کړی وي، د سم کار کول به د هغوی لپاره اسانه وي.

که د وقف کولو په اړه پرېکړه کوئ، نو د خپلې کورنۍ ډاکټر یا د وقت ولایتي پروګرام سره خبرې وکړئ.

## څنګه وقف کولی شم؟

څنګه خپل ولایت کې د اعضاو یا انساجو وقف کوونکی په توګه نوملیکنه وکړو:

- https://www.donateyourorgans.ca/#register

ستاسې پرېکړې پام کې نیولو پرته، تاسې به تل مناسبه طبي پاملرنه ترلاسه کړئ. په دې اړه چې ایا غواړئ وقف کړئ که نه، له خپلې کورنۍ سره خبرې وکړئ. ستاسې انتخاب ته به تل درناوی وشي.

لطفاً په یاد ولرئ چې وقف هغه مهال چې د ډاکټر له لوري مړ اعلان شئ ترسره کیږي.

د خپل ژوند په پای د خپلو اعضاو او انساجو وقف کول له نورو خلکو سره د هغوی د ژوند تر پایه ژوندي پاتې کېدلو کې مرسته کوي.

نورو معلوماتو لپاره، لطفاً موږ ته په OTDT@blood.ca برېښنالیک واستوئ.